# وشحال خان خټک په رباعیاتو کښې دَمتلونو ذ کر

## *Proverbs in Khushal Khan Khattak's Quarters (Rubayat)*

نورمحمد دانش بېتني ، عبدالحکیم شاه خټک


## Abstract

*Proverb is the old quality of folk literature. It is full of wisdom and thought provoking. It has its existence in all nations and languages. It is great treasure for every literature. It covers all aspects of life. It has been noted that different languages have similar proverbs for similar purpose but with no difference of meaning. Pashto literature has innumerable proverbs. Pashto speaking people used them according to the demand of situation. Pashto poets have also used it in their poetry .In this paper the Quarters ( rubayat ) of Khushal Khan Khattak has been discussed and viewed in which he used proverbs.*


اولسي ادب په خپله لمن کښې ډېر صنفونه لري- په دې اولسي صنفونو کښې یو صنف دَ متل هم دے- متل دَنړۍ په نورو ژبو کښې هم شته- په انګرېزۍ کښې ورته پروورب (Proverb) وائي- په عربۍ او فارسۍ کښې ورته مثل وائي-په اردو کښې ورته ضرب المثل وائي-

لغت پوهان دَ متل تعریف داسې کوي :

,, متل : (مثل) ، مذ ، مثل(ضرب المثل) ، جمع : متلونه، ، [1]

یوبل لغت پوهـ ئې داېې ښئ :

,, متل : ( مَ تل ) اسم - واحد - مذکر- یوه وړه جمله چې دَ یوې ژبې دَ ویونکیو اکثریت ئې هوښیارتیا دَ تجربې په حېث قبلوي- مثال - ضرب المثل ، ،[2]

په یوبل لغت کښې ئې داسې تعریف کوي :

,, متل : یوه لنډه جمله چې ستر کلتوري اوعلمي ارزښت په کښې پروت وي،،[3]

مصطلحین دَ متل مختلف اصطلاحي تعریفونه کوي-په دې حقله زلمے هیواد مل وائي :

,, متلونه هغه پخې او په تول تللې خبرې دي چې په یوه لنډه جمله کښې ډېرغټ مفاهیم رانغاړي- دَ بیان رسایي او سپېځلتوب هم لري ،،[4]

عبدالحلیم اثر ئې داسې بیانوي :

,,متلونه په لنډو لفظونوکښې دَ فصاحت او بلاغت په کُنډه (تله) تللې شوې هغه وړې وړې او فصیحه جملې دي چې دَ لفظ او معنې دواړو په اعتبار سره موزونې او مکملې دي-او ښې پوره جامع او غټې وېنا ګانې لري-او دَ انسان دَ ژوند بېل بېل اړخ سره تعلق لرونکي دَ پوهې، دَعقل او تجربو نه ډکې نکتې په کښې پرتې دي،،[5]

متل دَ اولسي ادب ډېر زوړ صنف دے - نۀ ئې تاریخ معلوم دے او نۀ ئې جوړونکي-

البته په اولس او چاپېرچل کښې ډېر اهم او مقبول دے-په دې حقله صدیق الله رشتین

وائي:

,, پښتانۀ متلونوته ډېر اهميت ورکوي- هر متل ورته دَ کاڼي کرښه ښکاري او هغه يو يو پوخ او غټ دليل بولي- پښتو متلونه دَ پښتنو دَ اجتماعي ژوندون پوره نمائندګي کوي- ،،[6]

هم دَ دې اهميت او مقبوليت له کبله ئې خلق په اولسي ژوند کښې په عاموخبرو اترو کښې او په خاص موقعو يعني جرګو مرکوکښې پکار راولي- متل دَ عمرونو عمرونو يوه داسې کوټلې او تاکلې، فصيحه او بليغه جمله وي چې ډېره لوړه پوهه او دانائي پکښې موجوده وي-دا دَ مشرانو دَ خولې وتې خبره وي چې دَ کاڼي کرښه ترې جوړه شي- دا دَ ژوند دَ هر اړخ عکاسي او لارښودنه کوي- دا دَ اولسي ادب قيمتي او ارزښتناکه پنګه ده-

ژوند په مخه روان دے - په دې ژوند کښې انسان دَ سياسي، معاشرتي،معاشي، مذهبي،سماجي يا داسې نورقسمه حالاتوسره مخ کېږي- دَ داسې قسمه حالاتو دَ مخ نيوي دَ پاره هم دَ دې متلونو نه پوهه او زيرکي حاصلېږي- هر کله چې متل دومره اهم چې دَ چاپېرچل عام وګړے ترې استفاده کوي نوشاعران چې دَ معاشرې سترګه ور کسان وي ،هغه دَ دې نه هېڅ کله سترګې نۀ شي پټولې او نۀ ئې پټې کړې دي- هم دَ دغي کاروان مشر خوشحال خان خټک په خپلو شعرونوکښې متلونه راوړي دي- په شعر کښې متل راوړل دَ علمِ بديع يو قسم دے- په اصطلاح کښې ورته ارسال المثل وائي-په دې حقله تسنيم الحق کاکاخېل وائي :

,, په شعر کښې يو مشهور متل په خاصه طريقه باندې کول- ،،[7]

په دې لړکښې يوبل ليکوال عبدالرؤف بېنوا وائي :

,, داصفت داسې دے چې يو متل يا يوه مشهوره جمله په نظم کښې راوړه شي- ،، [8]

خوشحال خان خټک په خپلو شعرونو کښې یاخو نېغ په نېغه متل راوړے دے، یا ئې په خاصه طریقه کښې ورته اشاره کړے ده-په دې لیک کښې مونږ په ترتیب سره هغه متلونو ته سره دَ هغه رباعیاتو ته پام کوو په کومو کښې چې خوشحال بابا په څۀ نه څۀ رنګ کښې ورته اشاره کړے ده-

١. متل : ازل لیکلي چا نۀ دي بدل کړي -

رباعي

نظر مــــــــــې وکړ په کتابونه
ډېرئې ښئیل دي ډېرئې بابونه
نورې بـــــه نۀ شي ازلي چارې
که ثوابـــــونه دي که غذابونه[9]

٢. متل : بدو سره کښېنه بد به شے- ښو سره کښېنه ښۀ به شے -

رباعي

دا پند دې هــر څـــوک سره سند کا
هوښیار به نۀ وي چې ځوک حسد کا
همراه چې ښۀ وي بـــدسړے ښۀ کا
هـــمراه چې بد وي ښۀ سړے بد کا[10]

٣. متل : چې بدغوارې بدبه مومې - یا چې کوېۍ بدې اندېش آخر بو (به) شي پو (پرې) پېش-

رباعي

څـــــــو به تل وي دا اوړې پوړې

چې دې په زړهٔ وي په خولهٔ يې راوړې

څو ئې ونۀ خـــــورې کله به اوړې

چې بــــلا غواړې په بــــلا واوړې[11]

**۴**. متل : چې بل ته کوهے کنې هم پخپله به پکښې پرېوځې -

رباعي

چاته چې چاه کنې په چاه کښې پرېوځې

بلا چـــې غـــواړې پــه بلا کښېوځې

په څوبه روغ اوسې دافـــــکرښهٔ وکړه

په پړانگ پرهاروکړےبیاورپسې وځې[12]

کله چې په یوشعرکښې دوه متلونه ذکرشي- نو په اصطلاح کښې دې ته ارسال المثلین وائي- لکه خوشحال بابا چې په تېره رباعۍ کښې دوو متلونو ته اشاره کړے ده-

**۵**. متل : چې په ځان کښې وينې په جهان کښې وينې-

رباعي

هسې بـــل گـــڼې لـــکه چـــې تهٔ ئې

هرڅوک به ښهٔ گڼي په ځان که ښهٔ ئې

که تهٔ مومن ئـې هرڅوک مومن ګڼي

هرڅـــوک کافر ګڼي که کافر تهٔ ئې[13]

۶. متل : چې چا ژغوله نهٔ وے بيامهٔ ژغېږه - مطلب دا چې چاتپوس درنه نهٔ وي کړے نو خبره ورته مهٔ کوه-

رباعي

هوښيارچــــــې ناست وي نادان خبرې کا

سپي دي ټمبرې څــــــوک دې ئې کُرې کا

چې څوک ئې نهٔ پوښتي خاموش دې اوسي

که هـــــــــر څو توئ ترخولې شکرې کا[14]

۷. متل : خپل عمل دَ لارې مل دے-

رباعي

دَ خپـــــله لاسه چې ستمونه دي

ګُښي په مانهٔ دي په عالمونه دي

دَ خپله لاسه لکه ښـــــادۍ دي

دَ خپله لاسه هومره غمـــونه دي[15]

۸. متل : خپله ژبه هم قلا ده هم بلا - يا ژبه جنت دے هم دوزخ دے-

رباعي

ژبه په تن کښې څـــــــۀ عجائبه ده
صحت هم ژبه ده صحت هـم تبه ده
چې ښۀ مې ځير کړښۀ پرې خبرشوم
جنت هـــــم ژبه ده دوزخ هم ژبه ده[16]

رباعي

هــــــــــم داژبه چــــــې غم ده
هــــــــم داژبــــــــــه ده بدي
که څــــــــــوک خپله ژبه ښه کا
نــــــــــورئــې هېڅ نشته بدي[17]

۹. متل: دَ ګونګي په ژبه دَ ګونګي مور پوهېږي-

رباعي

تروږی په مکر مزري په زورزده
غازي په تـوره وښبه په لورزده
ملا خــبرې په سپين په تورزده
دَ ګونګوژبــه دَ ګونګومور زده[18]

۱۰. متل: روغ صحت نعمت دے- یا صحت لوئے نعمت دے-

رباعي

که لوئې نعمت دے روغ صورت دے

که لوئې دولت دے دَ نېکونيت دے

چې دا ئې نۀ وي مزه ئې مـۀ غواړه

کـه بادشاهــي ده که سلطنت دے[19]

۱۱.متل: شیخ فرید ه چپه خولۀ دې بهتري ده-

رباعي

ژبه بند کړه لـــه ګفتاره

لاس خوندي کړه لـه ازاره

نور غم نشته نۀ اندوه شته

فراغت ګرځـــه بې ډاره[20]

۱۲. متل : ښځه کړه پښتې ده ماته به شي سمه به نۀ شي-

رباعي

که ئې له حاله خوشحال پوښتئ

ښځې هـــمه دي کږې پښتې

کږې پښتې بـه درسمې نۀ شي

که پــه هنر کښې نامي پوښتئ[21]

**۱۳. متل :** عادت نهٔ بدلیږي- یا هر څهٔ به لاړشي خو عادت نهٔ ځي -

رباعي

عادت چې بدلري ځان ئې ژړلے دے
عادت چې بدلري سرئې خوړلے دے
عادت په پندنهٔ ځي عادت په بندنهٔ ځي
عادت له سره سره تړلے دے[22]

**۱۴.متل :** غابښ چې رنځورشي نودَ امبورشي-

رباعي

فرزند که ښهٔ شي دَ سترګونُورشي
دَ سترګونُورشي دَ زړهٔ سرور شي
فرزندچې بدشي غابښ دې رنځورشي
غابښ چې رنځورشي نودَ امبورشي[23]

**۱۵. متل :** کل شئ یرجع الی اصله- دا دَ عربۍ ژبې یومتل دے معنٰی ئې ده هر څیز خپل اصل ته رجوع کوي-

رباعي

له شېره شېرزېږي له ګرګه ګرګ زېږي
له بازه باز وي لــه چرګه چرګ زېږي

هر څـــــوک خپل اصل ته رجوع کا

خطا که نـۀ وي له بزرګه بزرګ زېږي[24]

**۱۲. متل: ګل بې خاره نۀ وي-**

رباعي

بې عېبه یار نشته په ملک هوښیاره

په عېب مـــــۀ کړه زړۀ بدله یاره

که ګـــــرځې واړه باغونه وګورې

ګل بــــه بیانۀ مومې خالي له خاره[25]

دغه رنګ خوشحال بابا په خپله نوره شاعرۍ کښې هم ځائے په ځائے متلونه راوړي دي، یا ئې ورته اشارې کړې دي- خودلته دَ وشحال بابا دَ رباعیاتونه دَ شمېرڅو رباعۍ راټولې کړې دي-لکه وړاندې مولیکلي دي چې متل کښې لوړه پوهه اودانائي موجوه وي دغه رنګ دَ خوشحال بابا رباعیاتوکښې عقلمندي، پوهه او دانش جوت ښکاري- دې سره سره خوشحال خان خټک ته دا ملکه هم حاصله ده چې په یو متل ئې دَ یوې نه زیاتې رباعۍ هم وئیلې دي- او ځنې ځایونوکښې خو ئې په یوه رباعۍ کښې دوه دوه متلونه هم راوړي دي- خوشحال بابا دَ خپلې رباعۍ په حقله وائي:

رباعي

چــې رباعۍ دَ خوشحال خان دي

دَ لاجــــوردیو غشیو په شان دي

تیرگر که هر څوغشے ښۀ روغ کا

پرواز ئې بویه که پر ئې وران دي[26]

## حوالې


۱. کاکاخېل،میاں بهادرشاه ظفر،ظفراللغات،یونیورسټي بک ایجنسي خېبربازارپېښور،دَ چاپ کال نۀ لري،مخ ۱۲۳۱

۲. مومند قلندر،صحرائي فرید ، دریاب، پښتوټېکسټ بک بورډ پېښور،دَچاپ کال ۱۹۹۴، مخ ۱۱۷۲

۳. زاهدمشواڼي،عبدالقیوم،زاهدپښتو- پښتوسیند ،دانش خپرندویه ټولنه،دَچاپ کال ۱۳۸۵ ل / ۲۰۰۷ ز،مخ ۹۴۲

۴. زلمے هیوادمل،دَپښتونثرانۀ سوه کاله، دانش خپرندویه ټولنه،دَچاپ کال ۱۳۹۰ ل/۲۰۱۱ ز، مخ۱۴۱

۵. اثر قاضي عبدالحلیم،پښتوادب،اداره اشاعت سرحدپېښور،دَچاپ کال ۱۹۲۴ء ،مخ۱۵۴

۶. مقدمه صدیق الله رشتین، ژواک محمد دین،پښتومتلونه،کابل چاپ

۷. کاکاخیل،تسنیم الحق،روح ادب،پښتواکېډیمي پېښوریونیورسټي (فوټوسټېټ)، مخ ۱۱۲

۸. بېنوا ،عبدالرؤف،ادبي فنون،دَ چاپ ځائے او کال نۀ لري، باب دَ بدیع علم، مخ ۷

۹. رسا ،میاں سیدرسول،ارمغانِ خوشحال، دَچاپ ځائے ماسټرپرېس محله جنګي پېښور ،دَچاپ کال دوېم ځل ۲۰۰۱ء ، مخ۱۲۵

۱۰. همدغه اثر، مخ ۱۱۰

۱۱. خټک ،خوشحال خان، دَ خوشال خان خټک کلیات،اوډنه،پرتلنه،سمون او وېپانګه، عبدالقیوم زاهدمشواڼي، دانش خپرندویه ټولنه،دَچاپ کال ۱۳۸۷ل / ۲۰۰۸ز، مخ ۵۱۵

۱۲. رسا ،میاں سیدرسول،ارمغانِ خوشحال، دَچاپ ځائے ماسټرپرېس محله جنګي پېښور ،دَچاپ کال دوېم ځل ۲۰۰۱ء ، مخ۲۳۰

۱۳. همدغه اثر، مخ ۳۰۴

۱۴. خټک ،خوشحال خان، دَ خوشال خان خټک کلیات،اوډنه،پرتلنه،سمون او وېپانګه، عبدالقیوم زاهدمشواڼي، دانش خپرندویه ټولنه،دَچاپ کال ۱۳۸۷ل / ۲۰۰۸ز، مخ ۵۳۱

۱۵. رسا ،میاں سیدرسول،ارمغانِ خوشحال، دَچاپ ځائے ماسټرپرېس محله جنګي پېښور ،دَچاپ کال دوېم ځل ۲۰۰۱ء ، مخ۲۵۲

۱۶. همدغه اثر ،مخ ۱۷۸

۱۷. همدغه اثر،مخ۷۴۳

۱۸. خټک ،خوشحال خان، دَ خوشال خان خټک کلیات،اوډنه،پرتلنه،سمون او وېپانګه، عبدالقیوم زاهدمشواڼي، دانش خپرندویه ټولنه،دَچاپ کال ۱۳۸۷ل / ۲۰۰۸ز، مخ ۳۹۷

[19]. رسا ،میاں سیدرسول، ارمغانِ خوشحال، دَچاپ ځائے ماسټرپرېس محله جنګي پېښور ،دَچاپ کال دوېم ځل ۲۰۰۱ء ، مخ۲۸۸

[20]. همدغه اثر، مخ ۷۴۳

[21]. خټک ،خوشحال خان، دَ خوشال خان خټک کلیات، اوډنه، پرتلنه، سمون او وېپپانګه، عبدالقیوم زاهدمشواني، دانش خپرندویه ټولنه، دَچاپ کال ۱۳۸۷ل / ۲۰۰۸ز، مخ ۵۳۰

[22]. رسا ،میاں سیدرسول، ارمغانِ خوشحال، دَچاپ ځائے ماسټرپرېس محله جنګي پېښور ،دَچاپ کال دوېم ځل ۲۰۰۱ء ، مخ۲۷۳

[23]. همدغه اثر، مخ ۲۷۸

[24]. همدغه اثر، مخ۲۹۲

[25]. همدعه اثر، مخ ۱۳۲

[26]. همدغه اثر، مخ ۲۳۴